# اوس باید څه وکړو؟

# د افغان پارولیان لپاره د کډوالۍ اختیارونو په اړه پرلپسی پوښتنې او ځوابونه

**مقدمه**

هغه افغان پارولیان چې د ۲۰۲۱ کال د جولای په میاشت کې د افغان حکومت له نسکوریدو وروسته متحده ایالاتو ته داخل شوي، په متحده ایالاتو کې د دایمي پاتې کیدو او د خپل ژوند بیا ځلې پیل کولو په اړه له نا څرګند حالت سره مخ دي. د احتمالي (د افغانانو د وضعیت تعدیل قانون) یا (Afghan Adjustment Act **AAA**) په هکله ډیرې خبرې وشوې او ډیرو افغانانو هیله درلوده چې دغه قانون به نویو راغلو افغانانو ته د دایمی کډوالۍ حالت یا ګرین کارت لپاره یوه رڼه تګلاره وړاندی کړي. له بده مرغه په اړه یې ډیر غلطوونکي یا ناسم معلومات خپاره شول چې له امله یې په افغاني ټولنه کې تشویش او ویره خپره کړی. د لاندې پرلپسی پوښتنو او ځوابونو موخه دا ده چې د افغانانو د وضعیت تعدیل قانون په اړه د ناسمو معلوماتو او ګونګوسیو مخنیوی وکړي او پر ځای ئې سم معلومات وړاندی کړي تر څو افغانان د کډوالۍ په اړه په خپلو اوسنیو انتخابونو ښه پوه شي.

**د افغانانو د وضعیت تعدیل په اړه وړاندیز شوی قانون څه شو؟**

- د ۲۰۲۲ کال د دسمبر پر ۲۲مه د متحده ایالاتو سنا مجلس د ۲۰۲۳ مالي کال بودیجه اومنیبس لایحه تصویب کړه. د دغه وړاندیز شوی قانون مدافعان تمه درلوده چې په دی لایحه کې به د افغانانو د وضعیت تعدیل قانون هم شامل وي او افغان پارولیان به وکولای شي چی په متحده ایالاتو کې د قانوني دایمي هستوګنې کارت یا ګرین کارت حالت تر لاسه کړي مخکی له دی چی بشر دوستانه پارول یې په ۲۰۲۳ کال کې پای ته ورسیږي. **له بده مرغه د افغانانو د وضعیت تعدیل د بودیجی په لایحه کـې شامله نه شوه او قانوني بڼه یې غوره نه کړه.**

**دا څه معنی لري چی د افغانانو د وضعیت تعدیل د قانون په توګه لاسلیک نه شو؟**

- **سره له دی چې کانګریس د افغانانو د وضعیت تعدیل قانون په کامیابولو کی پاتې راغلل خو دا د افغان پارولیانو لپاره شته انتخابونو کې تغییر نه راولي.** دم مهال پارولیان کولای شي چې د قانوني دایمي اوسیدونکي حالت یا LPR تر لاسه کړي که چیری د SIV ویزی ته وړ وي (چې هغه دی پوری اړه لري چې په افغانستان کې یې د متحده ایالاتو لپاره کار مخ ته وړلو) او یا هم کولای شي چې د کورنۍ د هغو غړو په واسطه ګرین کارت تر لاسه کړي چې د امریکا تبعه یا هم قانوني دایمي اوسیدونکي وي او دوی ته یې اپلای وکړي.

**که چیری زه د ځانګړي مهاجرت ویزی یا SIV په توګه د ګرین کارت اخیستلو لپاره اپلای نشم کولای او یا هم د کورنۍ غړی نه لرم چی له لارې یې ګرین کارت ته اپلای وکړم نو په داسی حالت کې باید څه وکړم؟**

- هغه افغان پارولیان چی پارول حالت تاریخ یی نه وي اوښتی او SIV ته اپلای نه شي کولای یا هم ګرین کارت لرونکي کورنۍ غړي ونلري، باید اسایلم ته خپل غوښتنلیک ولیږي یا هم مؤقت خوندي حالت یا TPS یا کوم بله لاره ولري تر څو د غیر قانوني اوسیدلو مخنیوي وشي او د کار کولو له اجازې محروم نشي. حقوقي مدافعین هم د یو بل انتخاب په اړه د لارښوونو په لټه کې دي چې داسی خلکو ته بیا ځلې پارول ورکړل شي مګر دا څرګنده نه ده چی آیا بیا پارول به افغانونو ته ورکړل شي او کنه.

**اسایلم څه ته وايي؟**

- اسایلم د خونديتوب يوه حالت ده چي د هغو کسانو لپاره استعماليري چي په خپل هيواد کي د زيان له جدي خطر سره مخ وي او د خونديتوب په موخه متحده ایالاتو ته راغلي وي. هغه کسان چي په متحده ایالاتو کي پناه تر لاسه کړي د کار کولو اجازه لري او د پناه اخيستنې يو کال وروسته دوی کولای شي چي د ګرين کارت لپاره خپل غوښتنليک وليږي.

**مؤقت خوندي حالت يا TPS څه ته وايي؟**

- مؤقت خوندي حالت يا TPS چي مؤقت حالت دي د هغو کسانو لپاره جوړ شوی چي د ځينو مشخصو هيوادونو څخه متحده ایالاتو ته داخليږي چي داسی خلکو ته اجازه ورکول کيږي تر څو په متحده ایالاتو کي ۱۸ مياشتو لپاره و اوسيږي او د کار اجازه هم ولري. د دې لپاره چي د TPS شرايط مو پوره کړي وي نو د افغان په حيث بايد په متحده ایالاتو کی د **۲۰۲۲ کال د مارچ مياشتې له ۱۵** راهيسې په متحده ایالاتو کي شتون ولرئ. TPS د افغانانو لپاره د ۲۰۲۳ کال تر نومبر مياشتې پوری شتون لري او هغه کسان چي شرايط يې پوره کړي کولای شي چي د وخت له پوره کيدو پوری ورته اپلای وکړي. TPS د ګرين کارت اخيستلو لپاره لار نه هواروي.

**که چيری زه د پارول پای ته د رسيدلو د مخه پناه غوښتنه ونه کړم يا TPS ته اپلای ونه کړم نو آيا زه به بيرته افغانستان ته وليږل شم؟**

- که ستاسې د پارول موده پای ته ورسيږي او تاسې په متحده ایالاتو کي کوم بل قانوني حيثيت ونه لرئ نو تاسی به په متحده ایالاتو کي د (غير قانوني اوسيدونکي) په حيث و پيژندل شئ او ستاسې د کار کولو اجازه به هم پای ته ورسيږي. په متحده ایالاتو کي غير قانوني اوسيدل چي هغه د هری مودې لپاره وي شايد ستاسې کډوالی ته په نورو هغو لارو چارو او شرايطو چي شايد په آينده کي شتون ولري په پوره کولو يې اغيز وکړي او ممکن ستاسې د بندېی کيدلو او يا هم شړلو سبب شي. په هر حال، ډيره مهمه ده چي تاسي پر دی **پوه شئ چي هغه افغانان چي د متحدينو ښه راغلاست عمليات (OAW) له لارې متحده ایالاتو ته پارول شوي او د پارول حالت يې پای ته رسيدلی وي او د متحده ایالاتو قانون يې نه وي مات کړی اوسمهال نه بندي کيږي او نه هم شړل کيږي.**

**که زه نه غواړم چي د په متحده ایالاتو کي د (غير قانوني اوسيدونکي) په توګه وپيژندل شم او نه غواړم چي د کار اجازه له لاسه ورکړم  نو زه بايد څه وخت TPS، اسايلم يا کوم بل قانوني لارې ته غوښتنليک وليږم؟**

- چون د متحده ایالاتو د تابعيت او کډوالی خدماتو دفتر (USCIS) د غوښتنليکونو په پراسس کي له ځنډ سره مخ دي، تر ټولو غوره انتخاب به مو دا وي چي مخکې له دی چي د پارول موده مو پای ته ورسيږي **ژر تر ژره** TPS يا اسايلم ته اپلای وکړئ اما هيڅ تضمين شتون نه لري چي ستاسې پر قضيه به د پارول د مودې له پای ته رسيدو مخکې پريکړه وشي. په هر صورت، په متحده ایالاتو کي قانون خورا پيچلی دی نو له همدی امله هغه افغانان چي غواړي د TPS يا اسايلم لپاره غوښتنليک وليږي **موږ يې په کلکه هڅوو چي د وکيل سره له مشورې پرته غوښتنليک و نه ليږي تر څو ډاډه شي چي دوی ور دي.**

- **مؤقت خوندي حالت يا TPS:**  د TPS لپاره فورمه بايد د ۲۰۲۳ **کال د نومبر له ۲۰** څخه د مخه ډکه شي. دا هم ممکنه ده چي د TPS سره يو ځای کارکولو اجازې ته هم اپلای وکړئ.

- **اسايلم:** که تاسې غواړئ چي د اسايلم غوښتنه وکړئ نو بايد **د پارول د مودې له پای ته رسيدو ۶ مياشتې د مخه مو د اسايلم لپاره غوښتنليک وليږئ تر څو د کار اجازه مو پای ته ونه رسيږي او نهايتاً بايد د پارول د مودی پای وروسته په ۶ مياشتو کي دننه مو غوښتنليک وليږئ چي TPS حالت تری مستثنی دي.**  هغه کسان چي اسايلم ته اپلای کوي او TPS ونه لري ۱۵۰ ورځې وروسته له دې چي اسايلم ته اپلای وکړي د کار کولو اجازې لپاره اپلای کولای شي.

## آیا زه کولای شم TPS او اسایلم دواړو ته اپلای وکړم؟

- هو دا ممکنه ده چې دواړو TPS او اسایلم ته یو ځای اپلای وکړئ. د یو لپاره غوښتنلیک استول پر بل اغیز نه کوي. دا هم شوني ده چې د TPS تر لاسه کولو وروسته د پناه غوښتنه وکړئ او یا هم د پناه غوښتنې لیک لیږلو وروسته پریکړې ته منتظر شئ او په عین حال کې TPS ته هم اپلای وکړئ. که تاسې ته پناه یا اسایلم درکړل شوی وي نو تاسې TPS ته اړتیا نه لرئ.

## د پناه غوښتنې یا TPS لپاره قانوني مرسته چیرې تر لاسه کړم؟

- که چیرې تاسې د بیا میشتیدنې اداري سره په  اړیکه کې یاست، نو دوی کیدای شي چې وکیلان یا د عدلیې وزارت لخوا معتبر استاځې ولري چې ممکن وکولای شي قانوني مرستې چمتو کړي او یا مو ورې قانوني خدمات چمتو کوونکې ته راجع کړي. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې یواځې د کډوالۍ په اړه ورې وکیلان یا د عدلیې وزارت سره اعتبار لرونکې استاځې کولای شي چې تاسې ته ستاسې د کډوالۍ قانوني اختیارونو په اړه مشوره درکړي.
- تاسې کولای شئ دلته د مهاجرت قانوني خدماتو چمتو کوونکو ملي لیست وموموئ: https://www.immigrationadvocates.org/nonprofit/legaldirectory
- یا هم دلته د مهاجرت وکیل ته د مراجعې غوښتنه وکړئ:  https://www.ailalawyer.com/